Roydad News Agency

# له ارمانه تر خاموشو هیلو

## په ۲۰۲۵ کال په افغانستان کې د کارګرو ماشومانو د وضعیت څېړنه

څېړنيز راپور د رسنيز ليدلوري له مخې

روېداد خبري اژانس

حمل ۱۴۰۵ لمريز کال

# لـــړلیـــک


لړلیک ........................................................................ ۳
شالید او مخینه........................................................... ۴
اساسي پوښتنې............................................................ ۵
د راپور موخې................................................................ ۵
د معلوماتو او ډېټا د راټولولو مېتود.................................... ۶
د راپور شننه او موندنې.................................................... ۷
۱. کورنی اجبار او اقتصادي فشار........................................ ۷
۲. له زده‌کړې محرومیت او خاموشې هیلې............................ ۸
۳. د کار ډولونه او لږ عاید................................................ ۹
٤. جسمي، رواني او ټولنیز زیانونه...................................... ۱۰
۵. د ماشومانو کیسې؛ ناغوښتلې انتخابونه............................ ۱۱
٦. بشري ناورین، د کورنیو او نړیوالو بنسټونو رول.................... ۱۱
پایله........................................................................... ۱۳
وړاندیزونه.................................................................... ۱٤
اخځلیک او منابع............................................................ ۱۵

# سریزه

په ۲۰۲۵ کال په افغانستان کې د ماشومانو کار د ټولنیزو او تعلیمي ستونزو یو له تر ټولو جدي ناورینونو څخه ګرځېدلی دی؛ داسې ناورین چې نه یوازې د ماشومانو فردي راتلونکی ګواښي، بلکې د بېوزلۍ او بې سوادي لړۍ تر ملي کچې دوامداره ساتي. د رویداد خبري آژانس موندنې ښیي چې ډېری ماشومان په خپله خوښه نه، بلکې د سختو اقتصادي فشارونو او د کورنیو لخوا په جبري توګه د کار بازار ته داخلېږي. هغه کورنۍ چې له بېکارۍ، ناروغۍ او یا د ژوند لپاره د معیشتي فرصتونو له نشتون سره مخ دي، خپل کم عمره ماشومان سختو کارونو ته اړ باسي، تر څو د ژوندي پاتې کېدو لپاره یوه ګوله ډوډۍ برابره کړای شي.

## د څلورو زونونو او ۷ ولایتونو له ۴۰ مرکه شوو ماشومان

| ۲۹ ماشومان | ۱۱ ماشومان |
| --- | --- |
| اقتصادي ستونزو | سخت کارونه + ښوونځی |

د رویداد خبري آژانس د موندنې پر بنسټ شمېرې د اندېښنې وړ دي؛ داسې چې د څلورو زونونو او ۷ ولایتونو له ۴۰ مرکه شوو ماشومانو څخه ۲۹ ماشومان د اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو بې‌برخې پاتې شوي، او یوازې ۱۱ ماشومان توانېدلي چې د سختو کارونو تر څنګ ښوونځي ته هم ولاړ شي. د دغو ماشومانو د کار په ډولونو کې لاسي پلور، د موټرو د ښیښو پاکول، مستري‌ګري، د خوراکي توکو پلور، د څارویو ساتنه، د خښتو په بټیو کې کار او د بوتلونو او زړو شیانو راټولول شامل دي. دا هغه کارونه دي چې ورځنی عاید یې له ۲۰ څخه تر ۳۰۰ افغانیو پورې اټکل کېږي او ډېری وخت یوازې د ګنو کورنیو د وچې ډوډۍ چمتو کولو لپاره بسنه کوي، دا شمېرې ښیي چې له دوو پر درېیو څخه ډېر کارګر ماشومان په عملي ډول له زده‌کړو بې‌برخې دي او د هغوی راتلونکی د بېوزلي او کورني اجبار تر سیوري لاندې ورو ورو مړاوی کېږي.

د ځینو اروا پوهانو  په باور، دا وضعیت ژورې رواني او ټولنیزې پایلې هم لري. ماشومان په ډېر کم عمر کې د کورنۍ دروند مسوولیت پر اوږو وړي، پر ځان باور یې کمېږي او له ټولنې څخه لیرې کېږي. ښوونځي ته د تګ لپاره د دوئ د نیمګړو هیلو کیسې د فردي غوښتنو او اقتصادي فشارونو تر منځ یو دردناک انځور وړاندې کوي.
بلـخـوا د ملـګرو ملتـونو د څـرګنـدونو او راپورونو له مخې، د یادو ستونزو تر څنګ اقتصادي ناورین او پر ټولنیزو فعالیتونو محدودیتونه هغه څه دي چې، په افغانستان کې یې د ماشومانو د کار کچې پراخېدو ته زمینه برابره کړې ده.
که څه هم د کار او ټولنیزو چارو وزارت وايي، چې یوازې په تېرو څو کلونو کې یې د څه باندې ۵۰ زرو کـارګرو ماشـومانو ستـونزو ته رسېدنه کړې او یوازې له ۱۱ زرو څخه زیات ماشومان د همدې وزارت په اړونـدو روزنتـونونو کـې ساتـل کېـږي چـې د زده‌کـړې او روزنـې اسانتیـاوې ورته برابرې شوې دي. په ورتـه وخـت کـې، ساحـوي څېـړنې ښیي چـې دا اقـدامـات نه دي توانېدلي د افغانستان په کچه د ماشومانو د درنو کارونو د پراخېدو مخه ونیسي.

دا څېړنیز راپور چې د رسنیز لید له مخې او د «رویداد» خبري اژانس په نوښت چمتو شوی، هڅه کوي وښیي چې په افغانستان کې د ماشومانو کار کول یوازې یوه اقتصادي ستونزه نه ده، بلکې یو جدي تعلیمي او بشري ناورین هم دی. د ماشومانو د کیسو ارزونه، د کارپوهانو د نظرونو شننه او د ملي او نړیوالو پروګرامونو کتنه د اوسني وضعیت او د هغه د پایلو په اړه د افغانستان د راتلونکي نسل لپاره یو روښانه انځور وړاندې کوي.
د دې څېړنیز راپور موخه دا ده چې د تعلیمي ملاتړ د پیاوړتیا، د بېوزلي د کمولو او د ماشومانو لپاره د برابرو فرصتونو د برابرولو اړتیا په جدي ډول را برسېره کړي.

## شالید او مخینه

په افغانستان کې د ماشومانو کار کول د یوې نړیوالې ستونزې یوه برخه ده، خو په دې هېواد کې یې شدت د اوږدو جګړو، اقتصادي ستونزو او د ملاتړو بنسټونو د کمزورتیا له امله ډېر زیات محسوس کیږي . د نړیوالو راپورونو له مخې؛ په ۲۰۲۵ کال کې د نړۍ په  کچه شاوخوا ۱۳۸ میلیونه ماشومان په سختو کارونو بوخت وو، چې نږدې ۵٤ میلیونه یې په خطرناکو او زیان اړونکو کارونو کې ښکېل وو؛ هغه فعالیتونه او کارونه چې د هغوی فزیکي او رواني روغتیا ته ګواښ پېښوي.

همدارز  نړیوال راپورونه ښیي، چې په افغانستان له نیمايي څخه ډېر د ۵ څخه تر ۱۷ کلونو عمر لرونکي ماشومان  په یو ډول کار کې ښکېل دي، چې ډېری دا کارونه خطرناک او زیان‌اړونکي بلل کېږي.

له تعلیمي اړخه، د ماشومانو کار کول په مستقیم ډول د هغوی د زده‌کړې او روزنې حق تر پښو لاندې کوي. ډېری ماشومان د اقتصادي فشارونو او ان د  کورنیو د مجبوریت له امله له ښوونځي پاتې کېږي. له زده کړو محرومیت نه یوازې د هغوئ شخصي راتلونکی له ګواښ سره مخ کوي، بلکې د بېوزلي او بېسوادي کړۍ په ملي کچه دوامداره ساتي.

یونیسف (UNICEF) او د کار نړیوال سازمان (ILO) څو ځله خبرداری ورکړی، چې افغان ماشومان نه یوازې د بېوزلي او کورني مجبوریت قربانیان دي، بلکې له بنسټیزو تعلیمي حقونو هم بېبرخې کېږي. دا تعلیمي محرومیت د فقر او ناپوهي کړی په ملي کچه اوږدوي او د هېواد راتلونکی او دوامداره پرمختګ له ګواښ سره مخ کوي.

دغه څېړنې ښیي چې، د ماشومانو د کار د مخنیوي لپاره یوازې قوانین بسنه نه کوي؛ بلکې پراخو اقتصادي تګلارو، د کورنیو ملاتړ او د اړتیا وړ تعلیمي پلانونو ته هم جدي اړتیا ده، چې پرته له دې بنسټیزو اقداماتو به افغان ماشومان لا هم د بېوزلی، کورني مجبوریت او له زدهکړو د محرومیت قربانیان پاتې شي.

## اساسي پوښتنې

دا څېړنیز راپور هڅه کوي چې لاندې مهمو پوښتنو ته ځواب وومومي:

- ۲۰۲۵ کال په افغانستان کې د کارګرو ماشومانو وضعیت څنګه و؟
- اکثره کارګر ماشومان په کومو فعالیتونو او کارونو کې بوخت و؟
- فقر او د کورنیو بېکاري، کار ته د ماشومانو په هڅونې کې څومره اغېز لري؟
- په زدهکړه، جسماني او رواني روغتیا باندې دماشومانود کار پایلې څنګه ارزول کېږي؟
- کورنۍ د ماشومانو په ملاتړ او یا د ماشومانو د کار کچې لوړېدلو په وضعیت کې څه رول لري؟
- د حکومت او نړیوالو بنسټونو سیاستونه او پروګرامونه د ماشومانو د کار کچې کمولو په برخه کې څومره اغېزمن ثابت شوي دي؟

# د راپور موخې

- د افغانستان د کارګرو ماشومانو د وضعیت څو اړخیزه څېړنه، په ځانګړې توګه له زده‌کړې محرومیت، اقتصادي فشار اوپه ټولنیزو -رواني پایلو تمرکز.
- د ماشومانو مستقیمو او عیني کیسو ثبتول ترڅو د شخصي هیلو او اقتصادي واقعیتونو ترمنځ تشه ښکاره شي.
- د ماشومانو د کارکولو په هڅولو کې د کورنیو د رول ارزول او اغېزې یې په دوراني غربت او بې سوادۍ.
- پر ماشومانو د کار له امله د جسماني، رواني او ټولنیزو زیانونو رامنځته کېدو په اړه د عامه پوهاوي کچې لوړول.
- د ماشومانو د کار د کمولو په برخه کې د حکومت او نړیوالو بنسټونو سیاستونو او پروګرامونو د اغېزمنتیا ارزونه.
- د ملاتړ ښـوونیـزو بنسټـونو پیاوړتیـا، د زده‌کوونکو د غوښتنو مطابق د ښوونځیو د جوړولو او د کورنیو د فقر کمولو لپاره د عملي سپارښتنو وړاندیز.
- دانساني ناورین او د ماشومانو کار سره مبارزې لپاره د ملي او نړیوالو همکاریو اغېزه.
- د کورنیو د مالي فشار کمولو او د ماشومانو د کار مخنیوي لپاره، د اقتصادي لارو چارو وړاندیز.

د یادونې وړ ده چې، د دې څېړنیز راپور موخې د رسنیز لیدلوري پر بنسټ؛ څېړنیزمحوره، تعلیمي او سیاست محوره دي؛ چې نه یوازې د موجوده وضعیت ښکارندوي کوي، بلکې هڅه کوي د شته وضعیت لپاره عملي لارې چارې هم وړاندې کړي. په دې توګه، یاد راپور د یوې توصیفي مطالعې له کچې  لوړ پوړ ته اوړي او د پوهاوي، ټولنیز فشار او د تګلارو بدلون لپاره د یوې ښې وسیلې په توګه عمل کوي.

# د معلوماتو او ډېټا د راټولولو مېتود

دا څېړنیز راپور د کیفي او ساحوي مېتود پر بنسټ ترسره شوی دی. د دې راپور معلومات د افغانستان په ۷ ولایتونو (کابل، ننګرهار، بلخ، هرات، بادغیس، پکتیا، کندهار) کې له ٤٠ کارګرو ماشومانو سره د مستقیمو مرکو لـه لارې راټول شوي دي، او د معلوماتو شننه په توصیفي ډول ترسره شوې ده. پـه دغـو مرکو کـې د کار ډول، د عاید کچه، د زده‌کړې حالت، کورنی وضعیت او د ماشومانو د شته هیلو په هکله معلومات ثبت شوي دي. په راپور کې د شته وضعیت د لا ښې شننې لپاره د ماشومانو د کـیسو تـر څنـګ، د ټـولنیـزو کـارپـوهـانو، ارواپـوهـانو، ښوونکو او حکومتي چارواکو نظرونه هم اخیستل شوي دي.

سربېره پر دې، د راپو د موندنو، پرتله کولو او پیاوړتیا لپاره د نړیوالو معتبرو بنسټونو لکه؛ دملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق(UNICEF)، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP)، دبشري مرستو د همغږۍ اداره (OCHA)، او د کار نړیوالې اداري (ILO) راپورونه هم کارول شوي دي، چې د ساحوي معلوماتو او ثانوي سرچینو څخه په ګډه اخیستنې د ماشومانو د کار د وضعیت او پر زده‌کړو یې د اغېزو یو هر اړخیز انځور وړاندې کولې شي.

## د راپور شننه او موندنې

د رویداد خبري اژانس موندنې چې د افغانستان په څلورو زونونو او ۷ ولایتونو کې له ٤٠ کارګرو ماشومانو سره د مستقیمو مرکو پر بنسټ، د ماشومانو د کار وضعیت د څو اړخیزې شننې په موخه شوې؛ ښیي چې ښوزلي، د کورنیو بېکارې او اجبار ماشومان له خپل بنسټیز حق (زده‌کړې) څخه محروم کړي او هغوی یې په لږعاید او زیان‌من کاري څواک بدل کړي دي.

١. کورنی اجبار او اقتصادي فشار
٢. له زده‌کړې محرومیت او خاموشې هیلې
٣. د کار ډولونه او لږ عاید
٤. جسمي، رواني او ټولنیز زیانونه
٥. د ماشومانو کیسې؛ ناغوښتلي انتخابونه
٦. بشري ناورین، د کورنیو او نړیوالو بنسټونو رول

## ١ کورنۍ اجبار او اقتصادي فشار

ډېرى کارګر ماشومان د خپلې خوښې او غوښتنې له مخې نه، بلکې د کورنيو له لوري د کار بازار ته داخلېږي. هغه کورنۍ چې له بېکارۍ، ناروغۍ د اقتصادي فرصتونو له نشتوالي سره مخ دي، خپل کوچني ماشومان درنو او سختو کارونو ته اړ کوي. په ګڼو روايتونو او کيسو کې دا جوته شوې، چې بېوزلي د دې لامل ګرځېدلې، څو کورنۍ خپل ماشومان سختو او درنو کارونو ته مجبور کړي.

**حنان؛** يو له دغوکارګرو ماشومانو څخه خپله کيسه داسې کوي: "زما نوم حنان دی، د ننګرهار د ګوشتې اوسېدونکی يم. د مجبوريت له امله کار کوم، هره ورځ پنځوس افغانۍ ګټم. پلار مې غريب دی او کار نشي کولی. بل ورور نه لرم، يوازې زه يم، څنګه مکتب ته لاړ شم؟ غريب يم. له دولت مې غوښتنه دا ده چې له موږ سره مرسته وکړي، موږ ته د زده‌کړې زمينه برابره کړي. پلار مې بوډا دی او کار نشي کولی."

**له کابل څخه علي اکبر وايي:** "زه دلته بوټ رنګوم. ورځ کې ۷۰ تر ۱۰۰ افغانۍ ګټم. ټولې پيسې پلار ته ورکوم. مکتب ته نه ځم ځکه په کور کې د کار  کولو لپاره بل څوک نشته، يوازې زه کار کوم. پلان مې درلود چې په راتلونکي کې ډاکټر شم. هر څوک غواړي په راتلونکي کې يو څه شي. مکتب تر ټولو ښه شی دی."
دا ستونزه د دې لامل شوې چې ماشومان د خپل طبيعي رول پرځای چې بايد د ښوونځي زدکوونکي ووسي، د خپلو کورنيو کوچني عايد ګټونکي شي.

**ذکيه نوري**، چې د کابل په يوه ښوونځي کې ښوونکې ده وايي، چې کورنۍ خپل ماشومان سختو کارونو ته مجبوروي او دا کار ناوړه پايلې لري. ذکيه نوري وايي: "زموږ ځينې زده‌کوونکي غيرحاضري کوي. کله چې موږ پوښتنه وکړو چې ولې ښوونځي ته نه راځې، ګورو چې هغوی په سختو کارونو کې بوخت دي، ځينې يې په نانوايي کې کار کوي ، چې دا ډېر خواشينوونکی دی،  ځکه چې دغه ماشومان يوې ګوله ډوډۍ پيدا کولو لپاره له زده‌کړو پاتې کېږي. د دغو ماشومانو کورنۍ د خپلو اولادونو په اړه بې پروايي کوي، حال دا چې دا ماشومان زموږ د هېواد راتلونکی جوړوي. ډېرى زده‌کوونکي چې غيرحاضري کوي، په لومړي سر کې وېرېږي او څه نه وايي، خو وروسته مني چې کار کوي، يا پلار نه لري او يا هم تر ظلم او فشار لاندې دي."

## ۲ له زده‌کړې محرومیت او خاموشې هیلې

له ۴۰ مرکه شویو ماشومانو څخه، ۲۹ ماشومان د اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړې محروم دي او یوازې ۱۱ ماشومان توانېدلي چې د سخت کار تر څنګ ښوونځي ته هم لاړ شي. په دې منځ کې یوازې په کابل او پکتیا کې داسې ماشومان شته چې هم مهاله کار کوي او هم زده‌کړې کوي، خو ډېری یې په حسرت سره ښوونځي ته د تللو هیله څرګنده وي.

دا شمېرې ښیي چې له دوه پر درېیمه برخه زیات کارګر ماشومان عملاً له تعلیمي بهیر څخه وتلي دي. له زده‌کړې محرومیت نه یوازې د هغوی شخصي راتلونکی ګواښي، بلکې د بېوزلي او بې‌سوادۍ لړۍ په ملي کچه دوامداره ساتي.
هیواد له پکتیا او عابد له ننګرهار څخه د دغو ماشومانو ښکاره بېلګې دي:

**هیواد:** "مور داسې ځوک نه لرو چې د کورنۍ سرپرستي وکړي. زه خپله کراچي چلوم. هیله لرم چې یو ځای ته ورسېږم. پلار مې معیوب دی او ورور مې کوچنی دی. تعلیم مې خوښېږي غواړم درس ووایم او یو ښه راتلونکی ولرم."

**عابد:** "زه دلته شاګرد یم او کار کوم. هره ورځ سل روپۍ راکوي. زمونږ په کور کې بل څوک کار نه کوي. ښوونځي ته د تګ ارمان لرم، خو بېوزلي ده. که کار پیدا شي، ښوونځي ته ځم. په افغانستان کې کار نشته، له همدې امله له ښوونځي پاتې شوی یم. له دولت څخه غواړم چې د کار زمینه برابره کړي، مور ته یو ښه کار پیدا کړي څو تر څنګ یې ښوونځي ته هم لاړ شم."

دکارګرو ماشومانو له زدکړو محرومیت نه یوازې د هغوی تعلیمي راتلونکی له ګواښ سره مخ کوي، بلکې د هغوی روغتیا او تغذیه هم له خطر سره مخ کوي. د خوړو نړیوال پروګرام په خپل راپور کې چې د ۲۰۲۵ کال د سپتمبر په ۱۰مه خپور شوی وایي؛ هغه ماشومان چې ښوونځي ته نه ځي له تغذیې مرستو هم بې‌برخې پاتې کېږي. په دې راپور کې ټینګار شوی چې ښوونځیو کې د خوړو پروګرامونه د زیان‌منونکو ماشومانو د ملاتړ لپاره له اغېزمنو لارو څخه محسوبیږي، نو هغه ماشومان چې د بېوزلي، سخت کار، جګړې یا نورو لاملونو له امله له زده‌کړې پاتې کېږي، په عملي توګه له دغو خوراکي مرستو هم محرومیږي.

## ۳ د کار ډولونه او لږ عاید

د رویداد خبري اژانس موندنې ښیي چې افغان کارګر ماشومان په بېلابېلو کارونو لکه لاسي پلور، د خښتو په بټیو کې کار، د موټرو د ښیښو پاکول، مستري‌ګري، د بیسکویټو پلور، د ځارویو ساتنه او د بوټلونو او زړو توکو په راټولولو بوخت دي. د هغوی ورځنی عاید له ۲۰ تر ۳۰۰ افغانیو پورې د بدلون په حال کې دی او ډېری وخت یوازې د ګنو کورنیو د وچې ډوډۍ چمتو کولو لپاره بسنه کوي.

**محمد؛** په هرات کې هغه ماشوم دی چې له خپلو پنځو ورو وروڼو سره د خوراکي توکو په پلورلو د کورنۍ نفقه برابروي.

محمد وايي: "پلار مې بېکاره دی، دلته زما کوچني وروڼه هم بيسکوټ خرڅوي، هغوئ هم ۲۰ يا ۳۰ افغانۍ راوړي. زه له همدې امله ښوونځي ته نشم تللی . پخوا به تلم خو اوس نه ځم ځکه بيسکوټ خرڅوم، کار نشته. همدا شيان خرڅومه کور ته يوه مړی ډوډۍ پرې اخلم، چې شاوخوا ۱۰ ډوډۍ کېږي. مور ۱۹ تنه يو. يو کوچنی ورور مې زاړه بوټان او اوسپنه خرڅوي او نور پنځه وروڼه مې هم دلته بيسکوټ خرڅوي."

په بله بېلګه کې، حسين په کندهار کې مستري توب کوي. هغه وايي:"زما نوم حسين احمد دی. دلته مستري توب کوم. دوه يا درې کاله کېږي چې دلته کار کوم. اوس د کور د ستونزو له امله له زده‌کړې پاتې شوی يم. که کار وي، ۱۰۰، ۲۰۰ يا ۳۰۰ افغانۍ عايد لرم. تر پنځم ټولګي پورې مې زده‌کړه کړې ده."

دا ډول کارونه نه يوازې خونديتوب نه لري، بلکې د ماشومانو د راتلونکي لپاره هېڅ مسلکي فرصت هم نه برابروي. د هغوی لږ عايد يوازې د ژوند د بقا لپاره بسنه کوي او د زده‌کړې يا فردي ودې لپاره د پانګونې فرصتونه نه برابروي.

## ۴ جسمي، رواني او ټولنيز زيانونه

سخت او درانه کارونه جدي جسمي، رواني او ټولنيزې پايلې لري. کارګر ماشومان د همدغو درنو کارونو له امله د ټولنې د نورو ماشومانو په پرتله ځان بې‌ارزښته احساسوي، پر ځان باور يې کمېږي او له ټولنې څخه واټن اخلي.

په ورته مهال، ټولنيز کارپوهان خبرداری ورکوي چې دغه ماشومان د خپګان، يوازيتوب او رواني ستونزو له جدي ګواښ سره مخ دي.

**خبيب حسرت،** د ټولنيزو چارو کارپوه، په دې اړه وايي: "سخت کارونه د ماشومانو پر شخصيت او روان جدي منفي اغېزې لري. هغه ماشومان چې په دغو کارونو بوخت وي، د هغوئ پر ځان باور کمېږي او په ټولنه کې ځان بې‌ارزښته ګڼي، چې دا کار د هغوی د انزوا او له ټولنې د لرې کېدو سبب ګرځي. د دغو مواردو ترڅنګ، د زده‌کړو د پروسې دربدل هم يوه ډېره جدي ستونزه ده، ځکه کله چې ماشومان په سختو کارونو بوخت وي، د هغوئ د زده‌کړې بهير دربېږي، چې دا د هغوئ د راتلونکي لپاره ډېر خطرناک دی. همدارنګه، دغه ماشومان له بېلابېلو رواني ناروغيو او خپګان سره هم مخ کېږي."

د نومورې په وينا، د ملاتړو ښوونيزو بنسټونو پياوړتيا، د کارګرو ماشومانو د غوښتنو مطابق د ښوونځيو جوړول، د فقر د کمولو تګلارو پلي کول، د کورنيو ملاتړ او د دې ناورين د مخنيوي لپاره اساسي لارې دي.

**بصير؛** کارګر ماشوم وايي: "درې کاله کېږي چې کار کوم. په لومړيو درې مياشتو کې به يې هره ورځ ۳۰ افغانۍ راکولې. په کار کې مې لاسونه ډېر ټپي شول، پرې شول تر څو مې کار زده کړ."

دولس کلن شير رحمان، بل ماشوم دی چې د خښتو په بټۍ کې کار کوي، هغه وايي: "زه غواړم مکتب ته ولاړ شم، خو اوس نه ځم. هيله لرم چې فوټبال وکړم او فوټبالر شم، خو دا ارمان مې لا هم نيمګړی دی. اوس په سختو شرايطو کې ژوند کوم، سهار وختي له خوبه پاځم او کار کوم."

په ورته مهال، ټولنیز کارپوهان خبرداری ورکوي چې دغه ماشومان د خپګان، یوازیتوب او رواني ستونزو له جدي ګواښ سره مخ دي.

**منیژه کامبیز رشیدي،** د ماشومانو ارواپوهه وایي: "هغه ماشومان چې سخت او درانه کارونه کوي، او هغه چې هم کار کوي او هم زده‌کړه، داسې قربانیان دي، چې راتلونکی یې له خطر سره مخ دی. دا ماشومان نه یوازې له تعلیمي حقونو محروم دي، بلکې د رواني ستونزو، له ټولنې د لرې کېدو او تیاره راتلونکي له ګواښ سره هم مخ دي. هغه ماشومان چې د بېوزلي، کورني فشار یا ټولنیزو شرایطو له امله سختو کارونو ته اړ کېږي، له تعلیمي زیانونو لکه د ښوونځي پرېښودل، بې‌سوادي، د زده‌کړې کمزوري، د تمرکز کمښت، د ذهني مهارتونو کمښت، ناوړه ګټه اخیستنې، جنایت کارو ډلو کې ښکېلتیا او نورو منفي ټولنیزو ستونزو سره مخ دي."

## ۵ د ماشومانو کیسې؛ ناغوښتلي انتخابونه

د کابل، ننګرهار، هرات، بلخ، پکتیا، بادغیس او کندهار د ماشومانو مستقیمې خبرې او کیسې د دوئ د ژوند یو زړه بوګنونکی انځور وړاندې کوي. ډېری دغه ماشومان سره له دې چې په سختو کارونو بوخت دي، بیا هم لویې هیلې لري، خو د ژوند د جبر له امله دا هیلې تر ډېره یوازې د حسرت په حد کې پاتې شوي دي. د یادو ولایتونو د ماشومانو د مستقیمو خبرو څو بېلګې داسې دي:

**نعمت له بادغیس څخه:** "زما نوم نعمت دی. موټر پاکوم. ورځنی عاید مې د ۱۵۰ نه تر ۲۰۰ افغانیو پورې دی. پلار مې شته دی، سپین ږیری شوی او کار نه شي کولای. سهار جومات ته ځم، له کار وروسته کور ته راځم. مور اته تنه یو. لوی ورور نه لرم. خپلې پیسې کورنۍ ته ورکوم. دوه نیم کاله کېږي چې کار کوم."

**قدرت‌الله له کابل څخه:** "دلته کاغذي دستمالونه خرڅوم، ما مکتب تقریباً تر شپږم ټولګي لوستی و، وروسته د کور اقتصادي حالت خراب شو او مکتب مې پرېښود. ما د انجینرۍ ارمان درلود."

**شیرآغا له بلخ:** "اوس دلته کار کوم. کور زما له لوري پرمخ وړل کېږي. مور اوه تنه یو، نور ناروغ دي، پلار مې ناروغ دی، نور ماشومان کوچني دي. زه کار کوم او ورځنی لګښت پوره کوم. ټولې پیسې مې کور ته ورکوم. په اووه کسانو کې یوازې زه کار کوم. ورځنی عاید مې ۱۰۰ یا ۱۵۰ افغانۍ دی. مخکې مکتب ته تللم، اوس نه ځم."

دغه کیسې ښیي چې ماشومان د حالاتو قربانیان دي، نه دا چې له زده‌کړې سره مینه ونه لري. هغوئ سترې هیلې لري، خو اقتصادي فشارونو او د کورنیو مجبوریت د هغوئ هیلې ماتې کړې دي.

که څه هم، یونیسف په خپل وروستي راپور کې ویلي چې په ۲۰۲۵ کال کې یې ۲۸ ولایتونو کې ۳۴۱ زرو ۵۵۷ افغان ماشومانو ته د سیمه‌ییزو ټولګیو له لارې د زده‌کړو زمینه برابر کړې او تر ٤۳۵ زرو ډېر ماشومان د رواني او ټولنیزو مرستو څخه برخمن شوي دي. خو د رویداد د څېړنې پایلې ښیي چې د اړتیاوو او موجوده خدمتونو ترمنځ لویه تشه شته او د دې ستونزې د حل لپاره پراخو اقداماتو ته اړتیا لیدل کېږي.

## ۶ بشري ناورين، د کورنيو او نړيوالو بنسټونو رول

په افغانستان کې د ماشومانو کار يوازې اقتصادي او تعليمي ستونزه نه ده، بلکې د يوه پراخ بشري ناورين برخه هم ده چې د کورنيو او نړيوالو مؤسسو همکارۍ ته اړتيا لري.

په ملي کچه، د کار او ټولنيزو چارو وزارت د کارګرو ماشومانو د وضعيت د څارنې لپاره اقدامات کړي دي. د ياد وزارت مسؤلينو په وينا، په تېرو څلورو کلونو کې د ۵۰ زره ماشومانو وضعيت څارل شوی او يوازې د يتيمانو ساتنځای کې چې د دې وزارت ترڅارنې لاندې دی، شاوخوا ۱۱ زره ماشومان ساتل کېږي چې د تعليم او زده‌کړې امکانات هم ورته برابر شوي دي.

**سميع الله ابراهيمي؛** د ا.ا د کار او ټولنيزو چارو وزارت وياند وايي: "کله چې د کار موضوع راپورته کېږي، لومړی شرط دا دی چې ماشوم بايد خپل د کار قانوني سن پوره کړي. کله چې مور د حرفوي کار په اړه خبرې کوو، يو اړين شرط يې دا دی چې د ماشوم عمر له ۱۵ کلونو زيات وي. د کار مفتشين هڅه کوي چې په هغو سيمو کې چې ماشومان په سختو کارونو بوخت دي، د کار خاوندانو يا کارکوونکو ته لارښوونې ورکړي، ترڅو شوې سپارښتنې پلې کړي او له دې لارې د ماشومانو د سخت کار مخه ونيسي. د ا.ا له راتګ راهيسې تر اوسه د ۵۰ زرو ماشومانو قضيې څارل شوي دي. د يتيمانو د روزنتونونو هڅه دا ده چې ماشومانو ته تعليم، تربيه، د اوسېدو ځای او نور امکانات برابر کړي او په دې برخه کې په ټولو ولايتونو کې د يتيمانو د پالنې مرکزونه فعال دي. يوازې اوس د يتيمانو د پالنې هغو مرکزونو کې چې د کار او ټولنيزو چارو وزارت پورې اړه لري، شاوخوا ۱۱ زره يتيمان او بې‌سرپرسته ماشومان ساتل کېږي، د دوئ ستونزو ته رسيدګي کېږي او هڅه کېږي چې دا برخه نوره هم وده وکړي."

دغه اقدامات د مسؤلينو د هڅو ښکارندوي کوي، خو د ستونزې د پراخوالي په پرتله محدود دي او بسنه نه کوي.

د يونيسف او د کار نړيوال سازمان د ګډ راپور له مخې په ۲۰۲۵ کال کې په نړۍ کې نږدې ۱۳۸ ميليونه ماشومان په سختو کارونو بوخت وو، چې له دې ډلې شاوخوا ۵٤ ميليونه ماشومان په خطرناکو او زيان‌اړونکو کارونو کې ښکېل وو، هغه کارونه چې د دوی روغتيا او وده له ګواښ سره مخ کوي. که څه هم دغو بنسټونو د ماشومانو په برخه کې د لازمو اقداماتو په هکله خبرې کړې، خو لا هم ټينګار کوي چې افغانستان د ماشومانو د کار په لحاظ د نړيوال کړکېچ يوه برخه ده.

په افغانستان کې د ماشومانو کار څو اړخيزه ستونزه ده چې ريښه يې د کورنيو فقر سره تړلې او ژورې تعليمي، رواني او ټولنيزې پايلې لري. د ماشومانو کيسې، ساحوي موندنې، او د نړيوالو بسټونو څرګندونې ښيي چې بايد په بېړنۍ توګه له زده کړو ملاتړ وشي څو د فقر کچه راټيټه شي.

**نورالله عزيز؛** د اقتصادي چارو کارپوه په دې اړه وايي: "د ماشومانو د سخت کار د مخنيوي لپاره، د قانون پلي کولو ترڅنګ بايد اقتصادي پروګرامونه تطبيق شي، عامه پوهاوی وشي، عاجلې مرستې برابرې شي او په سيمو، کليو او ښوونځيو کې خوراکي بستې وويشل شي چې دا ټول د کورنيو د اقتصاد په ښه کولو کې مرسته کوي. پروګرامونه بايد تطبيق شي چې د کورنۍ اقتصادي وضعيت ښه شي. کوچنۍ مالي مرستې (مايکروفايننس) بايد ترسره شي. چې دا ټول اقدامات کولی شي په تدريجي ډول د سخت کار کچه راټيټه کړي. دا د کورنيو او بهرنيو مرستو او پانګونې زياتوالي ته اړتيا لري. نړيواله ټولنه بايد مرسته وکړي او د کورنيو لاسنيوی وکړي څو خپل ماشومان درنو کارونو ته پرېنږدي."

# پايله

د ماشومانو د کار په اړه د ۲۰۲۵ کال څېړنه په افغانستان کې د ځو اړخيز ناورين څرګند انځور وړاندې کوي. داسې يو ناورين چې بنسټ يې له فقر، د والدينو بېکارۍ، او د کورنيو له مجبوريت سره تړلی دی. په دې راپور کې څېړل شوې نمونې ښيي چې له ٤٠ مرکه شويو ماشومانو څخه، ۲۹ ماشومان د اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو محروم شوي او يوازې ۱۱ ماشومان توانېدلي چې د سخت کار ترڅنګ ښوونځي ته هم ولاړ شي.
دغه شمېرې څرګندوي چې اکثريت کارګر ماشومان له خپل بنسټيز حق چې تعليم او تربيه ده محروم شوي او د دوی راتلونکی د اقتصادي فشار او د کورني مجبوريت له امله له ګواښ سره مخ ده.

د معلوماتو شننه ښيي چې د ماشومانو کار د دوی پر زده‌کړې او ودې جدي اغيزه لري، له تعليم څخه محروميت ماشومان له ښوونځي لرې کوي، په زده‌کړې کې کمزورتيا او د هيلو مړينه رامنځته کوي، تر څنګ يې د رواني او ټولنيزو زيانونو له امله په هغوی کې پر ځان باور راکموي او په دوئ کې د بې‌ارزښتي او يوازيتوب احساس زياتوي.

په نړيواله کچه د يونيسف (UNICEF) او د کار نړيوال سازمان (ILO) راپورونه ښيي چې، افغانستان د ماشومانو د کار له اړخه د نړيوال کړکېچ برخه ده، چې شدت يې د هېواد د ځانګړو شرايطو له امله خورا زيات دی. په داسې حال کې چې په نړۍ کې نږدې ۱۳۸ ميليونه ماشومان په کار بوخت دي، افغانستان د اقتصادي تنزيل، ټولنيزو او تعليمي محدوديتونو له امله د دې ناورين يوه مهمه برخه جوړوي.

له همدې امله، په افغانستان کې د ماشومانو کار يو بشري او تعليمي ناورين دی چې د ځوان نسل راتلونکي ته ګواښ پېښوي. له دې ستر ناورين سره د مبارزې لپاره بېړنيو او ځو اړخيزو اقداماتو ته اړتيا ده؛ له دې ډلې: د کورنيو د فقر کچه راټيټول، د اقتصادي فرصتونو رامنځته کول او د کارګر ماشومانو لپاره د هغوی د غوښتنو سره متناسب تعليمي سيستم جوړول هغه لارې چارې دي چې په لنډمهاله او منځمهاله توګه کولی شي افغان ماشومان د سختو کارونو له بند څخه خلاص کړي او هغوی د فقر او بېوزلي د قربانيانو پر ځای، د هېواد د راتلونکي جوړونکي ووسي.

# وړاندیزونه

د دې څېړنیز راپور د موندنو پر بنسټ، د ماشومانو د کار کچې کمولو او د تعلیم د پیاوړتیا لپاره په مختلفو کچو لاندې اقدامات د وړاندیز په توګه وړاندې کیږي:

- **د کورنیو د فقر کمول:** د والدینو لپاره د اقتصادي فرصتونو رامنځته کول، له کوچنیو کاروبارونو او کوچنیو مالي پروګرامونو (مایکروفایننس) څخه ملاتړ،څو کورنۍ د ماشومانو پر عاید لږ تکیه ولري.
- **له غوښتنو سره د برابرو زده‌کړو پیاوړتیا:** د کارګرو ماشومانو لپاره د نیمه وخت ښوونځیو یا ځانګړو تعلیمي پروګرامونو جوړول، څو وکولی شي د کار ترڅنګ خپلې زدکړې هم ترسره کړي.
- **د ښوونځیو د تغذیې پروګرامونه:** د تغذیې پروګرامونو پراخول (د WFP سپارښتنو سره سم) ترڅو کورنۍ وهڅیږي او خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي.
- **رواني او ټولنیز ملاتړ:** د کارګرو ماشومانو د مشورتي او رواني خدماتو څخه ملاتړ، څو رواني او ټولنیز زیانونه کم شي.
- **ټولنیز پوهاوی:** د ماشومانو د کار پایلې او د زده‌کړې اهمیت په اړه کورنیو او سیمه یزو ټولنو لپاره دټولنیز پوهاوي کمپاینونو ترسره کول.
- **نړیوالې مرستې:** افغانستان کې د زده‌کړې په برخه کې د پانګونې او د فقر په کمولو کې د نړیوالې ټولنې مالي او تخنیکي ملاتړ ترلاسه کول.

# اخځلیک او منابع

دا څېړنیز راپور د ساحوي معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی چې د رویداد خبري اژانس لهخوا راټول او د شننې لپاره له معتبره نړیوالو سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې ده، چې په لاندې ډول دي:

1. رویداد خبري اژانس – د افغانستان په څلورو زونونو او اوو ولایتونو کې د ٤٠ کارګرو ماشومانو سره ساحوي مرکې (۲۰۲۵).
2. یونیسف (UNICEF) – د ماشومانو د وضعیت او بشردوستانه اړتیاوو راپورونه په افغانستان کې (۲۰۲۵).
3. د کار نړیوال سازمان (ILO) – د یونیسف سره ګډ راپور د ماشومانو د کار په اړه په نړیواله کچه (۲۰۲۵).
4. د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) – د « The State of School Feeding Worldwide » راپور (سپتمبر ۲۰۲۵).
5. د ملګرو ملتونو د بشردوستانه همغږۍ دفتر (OCHA) – د افغانستان د ماشومانو د وضعیت راپور (اپریل ۲۰۲۵).
6. د اقتصادي، ټولنیزو چارو کارپوهان، روانپوهان او افغان ښوونکو څرګندونې– ساحوي شننې او په راپور کې مستقیمې مرکې.
7. له سمیع الله ابراهیمي سره مرکه، د افغانستان د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویاند.